**مطبوعاتي اعلامیه**

**نه ښاغلیه جاویده، کله چې د «مخنیوي» تګلارې ملاتړ کوئ، په دې سره د ریښتني ترهګرۍ پلوي کوئ!**

(ژباړه)

تېره اونۍ د بریتانیې د کورنیو چارو یوه سلا کار وزیر ساجد جاوید په زړورتوب سره هغه کسان تورن کړل چې د ده د «مخ نیوي» د ناکامې پالیسۍ پر وړاندې درېدل، په وینا یې هغوی د سخت دریځو اړخ نیوه. دی هیله من دی، چې په دې ډول بې مسولیته څرګندونو سره به داسې تورې او سپینې پرتلیزې کرښې رسم کړي چې پر بنسټ به یې: یا تاسو سیکولر یاست او یا هم سخت دریځي.

د تندلارۍ او تاوتریخوالي د مخنیوي په موخه د «مخنیوي» تګلاره په پشپړه توګه یوه کرغېړنه تګلاره ده او د دې لپاره طرحه شوې، تر څو خلک د سیکولرو ارزښتونو پر وړاندې له مبارزې څخه را وګرځوي، چې نړۍ یې له فساد سره مخ کړې، خو په حقیقت کې د دې تګلارې موخه د اسلام د بنسټیزو افکارو مخه ډب کول دي چې اوسنی نړیوال سیکولر نظم یې ننګولی.

حقیقت دا دی چې ساجد او د ده سیکولره ډله په اوسنۍ نړۍ کې د تندلارۍ او ترهګرۍ ریښتني ملاتړي دي. کله چې د تندلارو کړنو په اړه په اوسنۍ نړۍ کې بحث کېږي، لاندې اړوندې پوښتنې باید ځواب شي:

له بریتانوي دولت او د دوی له رسنیو پرته څوک ماشومان په ښوونځیو کې تندلاري کوي او څوک په مسلمانانو ملنډې وهي؟

چا د ښاغلي ساجد په څېر وزیران تندلارې کړل چې لیبیا، عراق، افغانستان او سوریې ته یې بمونه او عسکر ولېږل او خلک یې پرې ترور کړل؟

چا له هغو وزیرانو او سوداګرو څخه تندلارې جوړ کړي، چې د یمن خونړۍ شخړې ته د سون توکي او وسلې برابروي؟

چا کورني او بهرني اداري کارکونکي او سوداګر تندلارۍ ته وهڅول، چې په نړۍ کې اوسنۍ وسلهوالې ډلې تمویل کړي، رهبري یې کړي او ډېرې تروریستي کړنې ترسره کړي؟

چا د بي بي سي هغه ژورنالیستان تندلارې کړي چې له جهاد څخه ناوړه تعبیر ته لمن وهي او د ملکیانو پر وړاندې یې تاوتریخوالی او زورزیاتی ګڼي؟

چا هغه وزيران او دبهرنيو دفترونو کارکوونکي تندلارې کړي، څوک چې په اسلامي نړۍ کې داسې دولتونه رامنځته کوي او بيا يې ملاتړي چې هره ورځ د خپلو عامو وګړو پر وړاندې ظلمونه ترسره کوي او له تاوتريخوالي څخه کار اخلي «هلته د خاشقجي په څېر په ميليونونو قربانيان شتون لري»، نو دا څوک دي چې په دې خاورو کې د ښکېلاکګرو مزدور حکام تندلاري کوي، تر څو د لوېديځ سيکولر دولتونو ناوړه چارې تر سره کړي؟

له تروريست کېدلو او په نړۍ کې له ترهګرۍ څخه له ملاتړ کولو پرته، اسلامي امت د هغو سختو ظلمونو پر وړاندې د پام وړ ګامونه اخيستي او د مخنيوي هڅه يې کړې، چې د اوسني نړيوال سيکولر نظم لخوا رامنځته شوي او موږ هره ورځ ورڅخه کړېږو.

له تېرې پېړۍ راهيسې د نړۍ سيکولر نظم بشريت د نابودۍ پولې ته رسولی، پر خلکو يې داسې وحشت او وېره خپره کړې، چې په تاريخ کې يې سارى نشته.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ»** (بخاري)

***ژباړه:*** *په رښتيا خلکو د تېرو پيغمبرانو له خبرو دا زده کړي: که حيا او شرم ونه لرې، نو بيا هغه څه کوه چې زړه دې وي.*

**يحی نسبت**

**په بريتانيا کې د حزب التحرير مطبوعاتي استازی**

**د صدور شمېره: 1440AH/ 05**

**۱۴۴۰هـ.ق، د ربيع الاول ۲۶مه**

**۲۰۱۸م، د ډسيمبر ۴مه، سه شنبه**